# په پښتو شعر کي نوی ځرک

علامه عبدالحی حبیبی

شعر او شاعري د قومي ژوند هنداره ده، او ادب د ژوندانه د ځپو سره مل روان وي. کوم اجتماعی تحولات چي پر انسانی ټولنو راځي، دغه تحول د ادب مخ ور اړوي. د کومو ژبو ادب چي د تحولاتو اوښتنو سره ملګری سي هغه مترقي ادب ګڼل کیدای سي.

اساساً ادب یوه اجتماعي پدیده ده، او د انساني ټولني د ژوند ډولونه او دودونه ښکاره کوي، او هر ادب چي ژوند سره مل نه وي، نو هغه ژوندی ادب نسو ګڼلای.

پښتو ادب په خپلو منځنیو دورو کي د خوشحال خان له جنبش سره د پښتنو د سیاسی او اجتماعي ژوندانه سره ربط پیدا کړی و، خو دغه حرکت وروسته د نورو ادابو تر اثر لاندي ضعیف سو، او زموږ شعر د تصوف او ادبي هوسونو په کږو وږو کي هغه د ژوندانه د اصالت رنګ لږ څه بایلود.

رحمان بابا دغه حیاتی متاع د مادې له چارچوبه یوې آسمانی او روحانی فضا ته ورسوله، شیدا او حمید د نازکخیالۍ او ادبی هوسناکۍ په چاپیر کي سره را دې خوا او هغی خوا ته کړه، او حتی ځینو خلقو خوارکی ادب د ضمضې او استنشاق او استنجا په احکامو کی را ونغښت.

رحمان بابا خو خپله اقرار کوی، چي د بیخودۍ ځپو لاهو کړئ دئ، او نه پوهیږي چي دغه جذبه او کشش له کومې خوا دی، دی وایي:

زه دا هسی دیوانه او مجنون چا کړم

له رواجه له رسومه بیرون چا کړم؟

نه پوهیږم چي دا چارې په ما څوک کا

لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم؟

رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه وم

چی دا هسی رنګ زبون او مخزون چا کړم؟

د شیدا او حمید نازکخیالۍ خو د یوه صنعتکار په ډول بدی نه دي، مګر د دوی شعر د شعر له پاره ؤ او کوم لوړ هدف او موخه نه لری.

خوشحال خان خو هم دغسی بزمی اشعار لری، او کله د خالص فنان جوله مومی مګر ژوند او اجتماع هم د ده په شعر کی خپله څیره ښکاره کوی، او د مقصدیت لوري ته متمایل کیږي. رحمان هم مقصد لري، خو هغه به لږ څه لاهوتی او آسمانی وي، مګر د شیدا او حمید هنر د هنر دپاره دی، دوی تش صنعتکاران دی دوی ښکلی او رنګین لوښی جوړوی، مګر داسی لوښی چي د ژوندانه په چارو کي نه پکاریږي. او هغه چیني منقش لوښي دي، چي فقط د تزئین له پاره یې په صالون کي د هوس او آنی خوند له پاره ایښوولای سو.

شیدا په شاعرانه تخیل کي د ځان له پاره د ماښام او هلال منظره داسي جوړوی:

تل په دا خمو آبرو په شهلا سترګو

د خپل یار شام و هلاله راشه کښینه

مګر دی پخپله هم په دغه نازکخیالی قانع دئ، او صنعت یې تش د صنعت دپاره دئ که د یار د طبعی نازکی موزونه کاندی، نو به ډیر خوښ وي:

نازکی د یار د طبعی کړه موزونه

ای شیدا نازکخیاله راشه کښینه

حمید له لړمونه خپل زړه د ترکو په لاس داسی را کاږی:

دا یې ښاخ د ګل سره په تلوار پرې کړ

که له زړه سره می ترکو لړمون وکیښ

وګورئ منظر څونی دردوونکی دئ، او که د شاعر خوارکی زړه په داسي قساوت له لړمونه را وکیښ سي، دا نه خوند لري، او نه حسن منظر او د اجتماعی او انسانی احساس له رویه به هم دا کار د غندني وړ وي، مګر د شاعرانه هوس بازی له پاره خو یوه ښکلې موضوع کیدای سي، او حمید هم فقط په دغه جذبه ځان په داسی بلا لړلی دئ.

دلته د حضرت جامی یوه مشهوره لطیفه را په یادیږی، بابر وایي چي د ده معاصر شاعر شیخم سهیلی دا بیت ووایه او د جامی څخه یې وپوښتل چي څنګه دئ؟

شب غم گردباد آهم از جا برد گردون را

فرو برد اژدهای سیل اشکم ربع مسکون را

جامی چي واروید، ورته یې وویل: "ورورہ ته شعر وایې او که خلق بیروې."

د حضرت جامی دا انتقادي نظر د حمید پر دغه بیت هم واردیدای سي، سړی چي دا بیت ولولي نو حتماً مورمړی عاشق په وینو لژند سړی ته تصور کیږی، چی ظالم معشوق یې سینه په قساوت ورخیري، او د ده لړمون او زړه را کاږی، نو دا به څوني ویر راوړونکی او مستکره منظر وي.

مګر حمید په خپله شاعرانه هوسکارۍ کي دغه تشبیه هم روا ګڼلې ده حال دا چي دغه شاعرانه قصابی په ژوند کی زموږ هیڅ په درد نه خوری.

د پښتو شعر د منځنۍ دورې اکثر آثار هم دغه فن تازي او نازک خیالي ده چي له پارسی شعره سره اوږه په اوږه ځي او دا هم د اجتماعی احوال او سیاسی جوړښت یوه ښکاره نتیجه ده، چی د فکر سیر د ژوندانه له مجرا څخه منحرف کړ سي، او خلق د زور او جبر په وسیله، له ژوندانه څخه بیزاره سي، نو به ضرور افکار لاهوت او آسمان ته متوجه کیږي، یا به تش هنر د هنر له پاره وي.

ځکه د انسان فکري فعالیت خو هر وخت اول په ماده او ژوند کي جریان مومي، مګر کله چي دغه لاره تړلې ویني، نو ځانته حتماً نور مجاري پیدا کوي.

د پښتو شعر له منځنۍ دورې څخه په داسي اجتماعي جریان کي نوی عصر ته را ووت، او په نونسم قرن کي بیرته له ژوندانه سره مخامخ سو. پښتون قوم د ایشیا یو فعال او ښوریدونکي او نه مړ کیدونکي قوم دئ.

دوی هر وخت په تاریخ کي ځانته نوی مجاري موندلی دي، او د ژوندانه له پاره پوره استعداد او تکړه توب لری. په نونسم قرن کي دوی د استعمار سره سختي ډغرې ووهلې،

او خپل حياتی او دفاعی استعداد يې ثابت کړ. دوی خپل ژوندانه ته متوجه سول، او د خپلي آزادی د ساتني يا بيرته ګټني په فکر کي ولويدل.

د ژوندانه دغه جريان، د دوی په ادب کي هم اثر وکړ، او د پخوانو د ادبی هوسونو پر ځاي يې خپل ادب ژوندانه ته متوجه کړ، نو ځکه د پښتو په نوي ادب کي د قديمو صنعتی فن تازيو پر ځاي د قومي ژوندون او آزادي خواهۍ او اجتماعی اصلاح او سمون افکار زيات ښکاره سول.

مخکي تر دې چي اصلي موضوع ته داخل سو، د دې لوړ بحث د نتيجې په توګه ويلاي سو چي:

ادب د انسانی ژوند يوه ښکلي پديده ده، نو په هره اندازه چي ژوند سره اوړي، او له يوه حاله بل حال ته تحول مومي، ادب هم هغسی د اوښتلو تر قانون لاندي په هر زمانه کي نوی رنګ، نوی خوند، نوی طرز او نوی ښکلا پيدا کوي، او دا چي د هنری ژبي په ادب کي خاص خاص سبکونه او دورې موجودي وې، او هره دوره ځانته ځيني خصايص او ټاکلی ټکی لري هم يوه طبيعی خبره ده.

ځکه چي هره زمانه له ځانه سره نوي نوي تعابير او نوي فکرونه او نوي انديښنې راوړي، او هرو مرو د اديب فکر په خپل چوکاټ کي اچوي.

د هرې ژبي ادب دغه مختلفي دورې لري، او هره دوره يې ځانته په ځينو خاصو خاصو ټکو له نورو دورو څخه ممتازه وي، او دا د تاريخ ډير غښتلی جبر دئ، چي ادب بايد پر يوه زاړه عنعنوي ډول پاته نه سي، بلکه د زمانې له سيره سره سم پر مخ ولاړ سي.

شعر او شاعري هم د انسان د ژوندانه له تحوله سره هرو مرو اوښتونکی او ګرزيدونکی او نوی ډول قبلونکې ده. د مثال په توګه به د پارسی ادب تحول ته وګورو چي، لومړۍ مرحله او د سامانيانو په دوره کي څنګه ؤ او بيا د غزنويانو په زمانه کي څنګه سو؟

د رودکی ادا، الفاظ، د کلماتو تلفیق، معانی او فکري اړخ بالکل د سنايي یا مولوی څخه بیل دئ. حال دا چي د دوی تر منځ دوه درې قرنه فاصله ده، اما هر قرن پر ژبه او ادب او فکر باندې دوني اثر کړی دئ، چي فرق يې برالا ښکاري، او هیڅوک له دې حقیقته سترګي نسي پټولای. د پښتو شعر هم د اسلامي دورې له ابتداء څخه مختلفي مرحلې تیري کړې دي. خو دا څلور قرنه له ۹۰۰ هـ ق را په دې خوا ادبي تسلسل لری، او د پیر روښان تر ادبي اجتهاد وروسته د خوشحال خان او د خټکو ادبي نهضت شروع سوی ؤ، چی دا دئ لمن يې اوس موږ ته را رسيږي.

د پښتو نوې دوره او د ژوندانه په حرکت شروع زه د شلمي پیړی له ابتدأ څخه ګڼم.

تر دې دورې دمخه د پښتو ادب پر هغی لاري تګ کاوه، چي قدماوو ټاکلی و، د شعر قالب هغه ګڼل کیدئ، چي په مدون ادب کی تر خوشحال خان وروسته شاعرانو جوړ کړی ؤ، په فکري لحاظ هم شاعرانو هغه لاره غوره کړې و، او پښتو ادب د عشقي او اخلاقي او ديني اشعارو په غولي کي محصور وو.

نوی یعنی څه؟

کله چي د نوی صفت پر شعر باندې کیږي، نو زما په خیال تر دوو مقولو لاندی را تلای سي:

اول: د شعر معنوی اړخ او د تخیل چاپیر او هغه څه چي شاعر يې د خپل شعر شمزۍ ګڼي او د ده د هنر اصل او موضوع وي، چي په فرانسوی يې فونډ fond بولي.

دوهم: د شعر لفظی اړخ او ظاهري چوکاټ چي قدماوو به د بلاغت اصول ګڼل او په بدیع او عروض او قافیه کي به يې بیانول، او دغه برخه په نوی اصطلاح فورم form بولي.

د پښتو شعر د شلمی پیړۍ دوره چي شروع کیده، د محتوا او موضوع له پلو يې ډیر نوی عناصر او د عصر او زمان سره برابر معانی او مطالب په ځان کي ومنله، او د پښتو شاعرانو په ډله کي موږ تر نیمایي زیاته برخه داسي شاعران لرو، چي د دوی د فکر مدار نوی و. دوی د کلاسیکو شاعرانو په ډول ځانونه د زلفو په کمند کي پیچلي او د تورو څڼو

په پیچ و خم کي نښتي او د ګل او بلبل سره همنوا او د میو او جام په دور او تسلسل کي ګرفتار نه کړل، بلکه د دغو مکررو او ډیرو استعمال سوو او پوده سوو مضامینو پر ځای یې ملي دردونه، اجتماعی او سیاسی خبري بیان کړې خو د دوی د شعر او وینا قالب هغه وو چي قدماوو ټاکلي وو، یعنی دوی د عصر او زمانې نوی ترنګونه او زمزمې په هغه قدیم رباب کي ووږغولې.

هغه غزل او مثنوی او رباعۍ او نور پخواني قالبونه یې په نوو موادو او افکارو ډک کړل. که د دوی فوند نوی ؤ، فورم خو یې زوړ ؤ، نو ځکه د دې ډلي په هنر کی کوم ابداعی او تخلیقی رنګ نه ښکاري.

دوی د تبلیغ او تلقین له پاره کومه نوې لاره نه کړه جوړه، خو بیا هم د زمانې جبر د دوی په فکر او د شعر په محتوا کي ضرور دخل وکړ، او دا هغه زمانه وه، چي ښتنو د استعمار ناوړې او کروړې لیدلي وې او په مشرق کي د آزادی وړمه چلیدله. لومړی بین المللی جنګ خلاص سوی و او په ټولو شرقی ملتونو کي د آزادۍ جنګونه په مختلفو شکلو شروع سوي وو، او په افغانستان کي د استقلال د بیا موندلو مبارزه په کامیابۍ سره ختمیده.

له دغو شاعرانو څخه چي زموږ په ادبي حرکت کي پیش قدمان دی، د مثال په توګه غلام محی الدین افغان، عبدالهادی پریشان (داوی)، سید محسن قندهاری، سید حسین او مخلص قندهاری، غلام محمد پوپلزی، سید راحت الله زاخیلی، میا احمد شاه، فضل محمود مخفی، امیر نواز جلیا، فضل احمد غراو دهلالی نومونه راوړلای سوای. دې ډلي خو په ادبي حرکت کي غټه برخه اخیستې ده اما له قدیمو زولنو او روایاتو څخه یې ځان نه دئ ژغورلي، مستقیم او نیغ خپل مقصد ته ورغلي دي، او په هنرنمایی او ابداعی مرحله کي یې پل نه دي ایښي.

زه دغه ډله نه غندم، او د دوی فکري خدمتونه پر سر او سترګو منم، مګر کله چی د ادب د تاریخ په تحلیلي او انتقادي مرحلو کي هنری آثار پلټل کیږي او پر فني معایرو

باندې د هر هنري اثر قيمت ټاکل کيږي، نو دغسې اشعار له نوي هنري ښکلا څخه تش ګڼل کېږي، او د زاړه سبک په ډله کې شميرل کيږي.

د مثال په توګه زه د هلالي يو شعر وړاندې کوم، چې د مضمون له پلوه نوی او خوږ او مفيد، او د نوي نسل يو ښکلی ارمان دئ، خو د ادا او څرګندونې قالب او طرز يې هغه کلاسيک او زوړ او مستقيم دی:

اې پښتنو پوه شئ، دئ ستاسو نوم نښان يو
ځانګې بيلې بيلې دی، دئ ستاسو د ذات شان يو
دا يوسف زي، خټک، بارک، احمدزی، مومند
دا غلجي، شينواري، افريدي دی خاندان يو
سيل نه جدا شوې مرغۍ لاړه شي د مرګ په خوله
راشئ د مقصود د منزل دپاره کړئ کاروان يو
لاس يا پښې او سر بللی چا په بنيادم نه دئ
بيل بيل اندامونه غونډ شي جوړ شی ترې انسان يو
اې پښتونه خدای دپاره، ولې ته يو نشولې؟
خدای دی يو، کعبه يوه ده، او ښکلی قرآن يو
ته که عزت غواړې په دنيا د نور اقوام په شان
ستا دي په دنيا د سياست کي وي ميدان يو
اې پښتونه! پوهه که خپل ځان د ورور ولی په راز
ستا ګټه يوه ده په دنيا کي او تاوان يو
کاشکی چي زما په ژوند پښتون يوه منګول شولې
زه ”هلاکی“ بس په زړه لرمه دا ارمان يو

وګورئ! دا د نوی شعر يو اعجاز دي: دا بيتونه پنځه څلويښت کاله پخوا ويل سوي وو. مګر ښاغلو لوستونکو! دلته زما مقصد د نوی شعر اجتماعی او سياسی مؤقف ښوول

نه دي، بلکه یوازی د هنري ارزښت څیړنه او پلټنه ده، چی دا مطلب به په ورستو برخو کي وڅیړم.

په نونسم قرن کي د طباعت او صحافت فن هم په پښتونخوا کي رواج وموند، نثر او نظم دواړه خپاره سول او پښتو د پښتنو له نهضته سره یو ځای د نوی ادب او نوی فکر او نوی ژوند په ډګر کي په وده او پرورښت کښیوته. دلته هوس او خیالبافي خپل ځای واقعیت او فکر ته ورکړ، لیکوال او شاعر دواړه د ژوند واقعی مسایلو ته متوجه سول. د لاهوت او آسمانی تفکر پر ځاي د اباسین او خیبر او ارغنداو مناظر ودریدل، د بڼ او زلفو پر ځای د قومي ژوندانه خبري د غور وړ سوې.

دغه تحول په پښتو ادب کي عصر او زمان او د تاریخ جبر قهراً را ووست د پیر محمد او شمس الدین پر ځای یې مخلص او الفت ودرول، د رحمان او حمید پر غولي یې اجمل او طوفان میشته کړل.

دا تحول فکري او عقلي تحول ؤ، او موږ ویلاي سوای که دا اوښتنه نه وای راغلې، نو به قوم له ژونده مرګ ته تلاي، او کوم حرکت چي اوس په پښتو ادب کی د ژوندانه له پاره کیږي د مړه ادب په مرګانیو او سیلیو به بدل سوی وای.

ما دمخه وویل چی زمانې په ادبي تحول کي خپل کار پوره وکړ، او اوسنی شاعر او لیکوال یې د ژودانه نوو زوایاوو ته ملتفت کړ.

د مثال په توګه وایم د چرک ږغ د پښتنو په کلیو او کورو کي ډیر اورېدل کیږي او دغه موضوع له قدیمه په شرقی شعر کي داخله سوې ده، سعدی هم ویلي ؤ:

ای مرغ سحر! عشق ز پروانه بیاموز
کان سوخته را جان شد و آواز نیامد

تر سعدی دمخه لا دا رباعی عمر خیام ته منسوبه وه:

دانی که سپیده دم خروس سحری
هر لحظه چرا همی کند نوحه گری
یعنی که نمودند در آئینۀ صبح

کز عمر شبی گذشت و تو بی خبری

او یا لکه د احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ه ق) معاصر پښتون شاعر اخوند ګدا چي ويلي ؤ:

د سحر چرګه خوږ شې په کومی
چي تا ناري کړې دلبر مي درومي
یو می دلبر ځي بل را نه زړه وړی
زړه می په دې وړي چی دلبر نومی

د سهار له چرګه سره د قديمو شاعرانو مخاطبې په عشقي ماحول او يا تنبيه او وعظ په چاپير کي محصوري وی، خو په شلم قرن کي د ژوندانه له تحول سره دغه مضمون آفريني هم واوښته، او يوه عصری شاعر داسي وويل:

ای مرخ سحر بنالهٔ دورا دور
بیهوده مکن تو خویشتن رنجور
زینسان که گرفته خواب غفلت ما را
بیدار نمی شویم، تا تفخه صور

پښتنو شاعرانو هم، لکه چي دمخه يې تاسی يوه قديمه نمونه وکتله پر دغه موضوع باندي مختلف تعابير پيدا کړي، او هر چا د خپل تخيل په چاپير کي د سهار چرګ ته خطاب کړی دي.

پر يوه چا چی شپه يې د وصل په خوښي کي سبا کړې وه، د چرګ بږغ د ماتم آواز سو، ځکه چي د وصل شپه يې لنډه کړه، نو ده په ډيره غصه داسي وويل:

د سحر چرګه کومي دي غوڅ سه
په ما دی لنډه د وصل شپه کړه
ښايسته ملاله،، په ميو مسته وه
چی تا را بږغ کړ دا دي خپه کړه

دا ټوټه د خدای رحیم اکاخیل کندهاري ده، چي تقریباً اتیا نوي کاله دمخه د کلات په سیوري کي اوسیدئ خو د دغه عصر یو بل شاعر عیسی اخونزاده د مرغ سحري له آوازه څخه داسي الهام اخیستي و چي سحری مرغه په خپل بانګک کی وایي:

ولاړیږه هڅه کړه چی شپه سوه تیره
سپیدی وچا وي انوار یې را خپریږي
رڼا یې د ورځی سوله را بر سیره

د شلم قرن پښتون شاعر اجمل خټک چي د خوشحال خان (۱۰۲۲-۱۱۰۰ ه ق) د ډیرې روڼ څراغ دی په خپل یوه شعر کي د میری چرګ ته خطاب کوي مګر دا شعر د عصر هنداهره ده، او شاعر د شلم قرن په ژبه چرګک ته ګډ دي:

اجمل خټک په دې سندره کي د خپل قوم د محرومیت نقشه را کاږي، او د خیال پرستي پر ځای واقعیت ته درومي، او خپل اولس ته د واقع بیني درس ورکوی. دوی خپل اصلی حال ته ملتفت کوی، او له غروره او تیروتلو یې د ژوندانه واقعی حالت ته را کاږي. دی چرګک ته خطاب کوي خو په دې خطاب کي د ژوندانه ډیر پټ مګر واقعي څنګونه روښانه کیږي، او ادب له ژوند سره نښلوی، اجمل د میری چرګک ته وایي:

تا ته به سحر ښکاري خو پام کوری ماښام نه شي
ته به یې آغاز ګڼې خو پام کوری انجام نه شي
ته به څه مستی کوری بې وخته را ځوان کړی یې
ته به چا په باد و پړسولې روان کړی یې
نوای د میری چرګه!
په ماښام بانګونه مه وایه!
دا منم چي تا سره څانګونه ښه درانه شته دي
دا منم چی ستا دوه خاروګان پاخه زاړه شته دي
دا منم چي ستا آواز تر لیری رسیدی شي نن
دا منم چی ستا په کرکره څوک غولیدی شی نن

یاد کړه! دا څانګونه ګوري ستا د الوتو نه دی

یاد کړه ګوري ستا اخاروګان د جنګیدو نه دي

ستا دا لوی آواز به ګورې تا ته مصیبت وي بیا

ستا دا کرکرې به دی هم تا ته لوی آفت وي بیا

نواې د میری چرګه!

په ماښام بانګونه مه وایه!

دا شعر خو شل دیرش کاله پخوا ویل سوی او د اجمل په (د غیرت چیغه) او (د وخت چیغه) کي نشر سوی دئ او زموږ په پښتو اوسني ادب کي هم اکثره برخه دغسي د ژوند خبري او د عصري ژوند نقاشي او نقادي ده او حرکت په ټولو پښتنو کي مشترک دئ.

په افغانستان کي هم پښتو ادب له اویا اتیا کالو څخه پر دغه خوا روان سوی دي. ملا عبدالباقی افغان قندهاری کاکړخېل (تبیین الواجبات) په همدغه رنګ د امیر عبدالرحمن په عصر کي شروع کئ او د حبیب الله په وخت کی یې ختم کړئ دی وایي:

د ضیا په نور روښان وم، مقتبس سوم له سراجه

را اخیستي مي قلم دئ، بیلوم دین له رواجه

په سراجی دوره کي تقریباً اویا کاله دمخه، دغه د فکر مکتب سراج الاخبار وروزه د مولوي غلام محی الدین افغان، او مولوي صالح محمد، او مستغنی او سید محسن کندهاری، او عبدالهادی پریشان، ډیر اشعار او آثار د عصر او زمان په رنګ رنګیدلی او پسوللی سوی دي، چي وروسته حاجی ولی محمد مخلص او خادم، الفت، رشتین، زمریالی، جلالی، سلیمی، رشاد او نورو هم خپل ادب او هنر له ژونده سره ونښلاوه، او اوس موږ ډیر څه داسي پښتو آثار لرو، چی د اوسنی ژوندانه تجلیات په ښکاره ډول پکی بریښي.

د افغانستان د استقلال د بیرته اخیستلو جنګ د ایشیا په دې برخه کی یوه ویښونکی او خوځونکی پیښه وه لکه په ډیرو اجتماعي او سیاسي او مدني چارو کي چي تحول راغئ، دغسي هم د فکری او ادبی اړخه هم یو مثمر او اغیزناکه حادثه وه.

د پښتونخوا په ځینو برخو کی چیری چی د خوشحال او رحمان او شیدا غوندي بلبلانو خواږه ږغونه اوریدل سوي وو، اوس هم د پښتو شعر نشوونما بیا مونده، او د ادبې تجدد مکتب لومړئ پلا هلته پرانیستل سو؛ او دا د پښتونخوا هغه ښکلی سیمه ده، چي د پښتو پخوانو شاعرانو "بګرام" ستایله، لکه شیدا چي ویلي وو:

د بګرام خطه دلکشه
د بهار د خاطر خوښه
سر تر پایه رنګ آمیز دئ
رنګینه خیال انګیز دئ
په بهار کی یې د ګلو
نارې اورم د بلبلو

د دې ادب خیزې سیمی زلمو له اروپایي مترقي ادبه سره آشنایي وموندله او په پښتو شاعرۍ کي یې نوی افکار، نوی الهامات او نوی اسالیب رواج کړل.

د دې ډلي پیشوایان سید رسول رسا، فضل حق شیدا، برق کاکا خیل، سمندر غنی، بیزاری، طوفان، اجمل، همیش، مفتون، نواز طایر او نور شعراء دی. دلته موږ اوس د دې ښکلي بوستان رنګین ګلونه: الفت، خادم، لایق، رشاد، ریدی، پسرلی او نور لرو.

نوو شاعرانو د خپل هنر فورم او فون دواړه نوی کړل، او که یې کله هم د پخوانو قوالب او هنری اسالیب وساتل، په هغو کي یې لاس وواهه، او په نوی ګینه او نوی پشول یې وښکلل، او په دې ډله کي د الفت ابتکار دا ؤ چی نثر ته یې کټ مټ د منظوم او پیودلی شعر رنګیني ورکړه، او زه چی د ده منثورې وړې وړې ټوټې لولم ګمان کوم، چی نثر نه دی، بلکه د یوه خواږه او پیودلی کلام په څیر خوند کوي.

د رسا د بیلتانه سندره خو تقریباً دیرش کاله پخوا ویلې سوې ده، خو هم یې موضوع نوې ده، او هم یې ادا نوې ده:

د اوښکو سترګی خون فواردې وې
ګرد و غباری وې، توری ایرې وې
په تندر شوي سر مي ارې وې
ریزی ریزی وې اوتر اوتری وې
یو چی په غیږ می ښکلی دلبر وې
بیدیاوی، تږی، هولناک غرونه
تاوده بادونه سوی ریګونه
ناست په غرمو کی سره وي ډاګونه
شونډی می وچي سوې ځیګر وې
یو چی په غیږ می ښکلی دلبر وې

په پای کي دا شاعرانه آوازو د ژوندانه او میني په خطرناکو مناظرو کي داسي پای ته رسوي:

د مرګ سلګۍ مي ورو ورو را ماتي
خولې را ماتي سا را نه پاتي
رانه وی پاتي دنیا میراتي
ژبه می بنده لاړ می نظر وی
یو چی په غیږ مي ښکلی دلبر وی
لحد کي پروت وی، زیږ مخ کفن کي
د ژوندون سا مي نه وی بدن کي
دردمند زره مي خاموشه تن کي
مرګ می په ژوند وی، کاش چي خبر وی
سر ته ولاړ مي ښکلی دلبر وی

په دې ادبی تحول او تجدد کې د سید رسول رسا د خیبر له خوا ماښام د برق د زړه توکړي د سمندر "ارمان دی زلمی توبه" او "د الم پر څوکه ناست یم" د بیزاري "ستړی له دنیا نه یم" د یادولو وړ دئ. د برق کاکا خیل، د زړه توکړی داسي یوه ټوټه ده، چې د قالب او فورم له مخی آهنګ او مستی او طنان وزم هم لري، او محتوا یې هم د احساساتو په تصویر کې بده نه ده، او یو څو توکړي یې دا دي:

غر په لوری ګلزار
بهار راغی په یو وار
ټول وطن شو لاله زار
بلبلان په چغار سر
بوراګان او تراوتر
نوی شان دي په دنیا
غر، په سمه، په بیدیا
نن چي ټول عالم مسرور
ځینی سم، ځینی مخمور
دا یو زه یمه مجبور
په زړګي مي دم په دم
غلبه ده د تورتم
آشنایان رانه ټول ځي
غلبه ده د تورتم
آشنایان رانه ټول ځي
نوی غم راته راځي

دلته شاعر تول او وزم او آهنګ هم ساتلی، او نوی قالب یې هم اختراع کړی دئ. د محمد نواز طایر ځینی هغه منظومې چي په پښتو مجله کي خپرې سوی دي دغه ډول آهنګ او موضوع لري.

ارمان دی زلمی توبه!
په تیریدو وي چي را پاڅیدم له خوبه
ارمان دی زلمی توبه!
چی را په خود شوم مازیګر و
په پریوتو کی زیړی نمر و
دغه د توری شپې خبر و
بیغمه خوب د غم بستر و
چي مي تر غوږ شولو آواز د نی له چوبه
ارمان دی زلمی تونه!
وروستی شي پاته چی اوده شي
په حرکت باندی کړه وشي
دیدن په پټو سترګو نه شي
پرونۍ ورځ به بیا را نه شي
که مي سیلاب جوړ شي د اوښکو له څڅوبه
ارمان دی زلمی توبه!

د سمندر بله ټوټه شعر "د الم څوکه" دو دیرش کاله پخوا جوړه شوې ده چي د شاعر د نوی قالب جوړولو او موزونۍ او مضمون آفرینۍ ښکاره دلیل دئ، د منظر نګاری کمال دئ، د لوړ تخیل معراج دئ او نتیجه یې یوه محکوم قوم ته ډیره مفیده او مثبته ده او د محکومو او مظلومو اولسونو پر حال صدق مومي.

د دې نوی شعري ټوټې آغاز داسي دئ:
لکه والوزی له شوقه
آسمانونو ته کوتره
چور لنډۍ خوری په فضا کي

کوزه ګوری، ګرځی بره

مرغ دل مي دی خوشحاله

سيل کوی د غره له سره

د دنيا له درده غمه

دا ساعت دی ناخبره

د الم په څوکه ناست يم

له ټول جهانه پورته

په دې آسماني سير او جګوالی کي چي د شاعر تخيل ډېره لوړ او الوتنګ کوی او خپل ټول مناظر په ډېر اوږده بيان او مهارت تصوير کوي، او د منظر نګاری ارج ته رسيږي نابره ځان ته متوجه کيږي، چی زه خو مريی يم او پردو ته په سلام ولاړ يم، نو دا ټوله خيالي اعتلا او لوړيدنه د ځان غولونه ده، وايي:

د الم په څوکه پورته

هوښ می راغئ چی غلام يم

په تندی می لاس تړلی

شپه او ورځي په سلام يم

د ... په درياب کي

لکه خس د راه عام يم

د الم پر څوکه ناست يم

زه له ټول جهانه پورته

فضل حق شيدا د دې مکتب يو تکړه استاد دئ، ده پنځوس کاله پخوا د دغه ادبی تحول او د ژوندانه د ترجمانۍ له پاره خپل افکار داسی پيودلی او د زمانې نوي شيان يې په دې ډول ښولي ؤ:

زلميه په وطن قربانيدل زده کړه بل شان

د مرګ چل دي خطا دی مړکيدل زده کړه بل شان

چې مړ شې نو ډېوې ته فایده ورسیده څه

پتنګه ته په شمع سوزیدل زده کړه بل شان

هر څیز چې زوړ شي خوند نه کړي، نو د زړه خندا دې پرېږده

بلبل نه اې ګلابه! خندیدل زده کړه بل شان

موږ نه شي تېولی جوړ اثر در کې نشته دئ

اې تاره! دریاب ته تېیدل زده کړه بل شان

که ته وینې لیلا د آزادۍ نو ستا قصور دئ

ولاړه ده د هغه خوته لیدل زده کړه بل شان

تا داغ و نه مینځلی شو، لمن نه د غوټیه

شبنمه! په ګلونو وریدل زده کړه بل شان

تا زخم د لاله د زړه جوړ نه کړی شو تر اوسه

ملهمه د شبنم، ته لګیدل زده کړه بل شان

دښمن تا هغه شاني خس ګڼی ګوري ازغیه

په سترګو د دښمن کی غړیدل زده کړه بل شان

دا ولی د ښکاري زړه په تا سوزی بلبلې

په خپله پنجره ګی کی کړیدل زده کړه بل شان

ستا اور څوک سوزولی نه شي اې اور اورکیه!

که خس خاشاک سیزۍ نو ځلیدل زده کړه بل شان

جرس نه دئ شیدا، چې قافله دی نه کړي ویښه

که ځان جرس کوې نو غړیدل زده کړه بل شان

په دې ډول په پښتو ادب کې د نوی ژوندانه څپې له شپیتو اویاوو کالو را پدې خوا په ښکاره لیدل کیږي، او پښتو ادب له حیاتی تحولاتو سره اوږه په اوږه روان دئ.

مګر دا حرکت په نوي ډول روزنه او تودونه غواړي، او دا کار د قوم د پوهانو او ادبی ټولنو او ژبنیو موسسو دئ، چی څنګه نوی ادب، په نوی فکر د نوی ودی او پرورښت پر خوا روانوي.

د جرس غوندی فقط خوځول غواړي

یقین وکړه! هره خوله کی ترانه ده

د پښتونخوا په متحدو شاعرانو کي چی د خپل زړه درد، او سوځند احساس په ډیر ادبی قدرت ښکاره کولای سی، او د خونین زړه ټوټې د شعر په پاڼکیو کي نغښتلای سی بیزاری دی. نه پوهیږم چي دا تکړه او خوږمن شاعر څوک ؤ؟ دی لږ پیژندل سوی دئ. پنځوس کاله پخوا د پیښتور په خپرونو کي د دې مقتدر او متجدد ویونکی ویناوی خپریدې، چي ما یې هغه وخت د پښتو شعر په تاریخچه کی سوانح او آثار لیکلی دي.

دا شاعر کاملاً بدبین ښکاری، خو په وینا کي یې قدرت او مهارت سته طراوت او جدت د ده د شعر خاصه ده او لکه د پارسی وحشی کرمانی د ارمانجن زړه د اورنیو احساساتو ډکه ټوټه داسي ده:

مه راوړه ساړه لاسونه ستړی له هر چا نه یم — ستړی له دنیا نه یم

اې د صبحدم نسیمه! ما سره نخرې مه کوه — ټوکی مسخرې مه کوه

خوښ یوازی ځانته د سرو ګلو د بوستانه یم — ستړی له دنیا نه یم

څو به غږوې مطربه! خوږ سرود په زیروبم — لا می زیاتوې ته غم

ستړی د فراق د سرودونو نه بي شانه یم — ستړی له دنیا نه یم

اې د آسمان ستورو! ولی بدبد راته ګورئ نن — ډیر له قهره ښورئ نن

ځای په زمکه نشته زما، لیری له آسمانه یم — ستړی له دنیا نه یم

اې ښایسته سپوږمۍ؟ په سر می غمازي کوې — لا می دلسوزي کوې

زه د غم لمبو وژلی ټول ستی ستومانه یم — ستړی له دنیا نه یم

اې د یار د مخ جلوې! چي بیا جلوه نما نشې — بیا عکس نما نه شې

پریږده، چی جلبل ستی لمبو کي د مجرا نه یم — ستړی له دنیا نه یم

نور دي زه پاللی نه شم چوه زړګيه چوې که ته؟ مړه زړګيه مرې که ته
بس کړه ځان کړه صبر زه جوړ شوی له جانانه يم ستړی لی دنيا نه يم
اې د يار بې مثلو، دل آزارو، دلربا سترګو تورو د آشنا سترګو
روی د رب دی، نور په قهرمه ګورئ پښيمانه يم ستړی لی دنيا نه يم
روی د رب دئ،. اې رقيبه ما پوري خندا مه کوه لافی د آشنا مه کوه
يار دي ستا نصيب شي زه بيل شوی له جانانه يم ستړی له دنيا نه يم

تر دې ځايه ما د ليرې پښتونخوا د نوو شاعرانو د هنری تخليقاتو څو نمونې در وړاندي کړې، او تاسی ګوری چي دا شاعران د شعر په نوو قالبونی کي خپل افکار او د زړه دردونه تويوي. د دوی فورماليزم او تخليقی احساس هغونی نوي دی، لکه د فکری الهام اخيستلو او محتوی مواد چي يې په نوی ډول او سينګار سره اوډلي دي اما دا ډله په دواړو خواوو بيا هم معتدله ښکاري، په دوی کي د تحول افراطي ميل نشته، د شعر د ټوټو يو تر بله تناسب او توازن ساتی، او بيخی ځانونه له قالبه نه باسي، او ښايي چي د نوی شعر ځينی افراطی ليوالان دغسي اشعار اصلاً نوی هم و نه ګڼي، مگر زه يې د نوي طليعه ګڼم، ځکه چي نوی شاعر د فورم په ټاکلو کي آزاد دی، او په ژبه کي نوي تراکب او نوی تعبير هم پيدا کولای سي.

کابل مجله اومه ګڼه ۱۳٤۷